# رحمان بابا

رحمان بابا په (۱۰٤۲) هجري کي په يوه غريبه کورنۍ کي زېږېدلئ دئ، په قوم مهمند او د پلار نوم يې عبدالستار دئ. دی په (بهادر کلي) کي اوسېدئ. عبدالرحمان په خپله زمانه کي يو صوفي مشربه سړی وو. ډېر شعرونه يې ويلي دي.



د رحمان بابا شعرونه د خلکو ډېر خوښ دي، خلک دده په شعرو باندي پالونه اچوي. رحمان بابا په (۱۱۱۸) هجري کي مړ سوئ دئ.

رحمان بابا د دنیا کارونه نه کول. دی به تر یوې وني لاندي ناست وو او شعرونه به یې ویل چي د هغه کلي خلک تر اوسه پوري هغې وني ته د قدر په سترګه ګوري.

د رحمان بابا شعرونه ډېر ساده او اسانه دي. اخلاقي، دیني، اجتماعي او تصوفي شعرونه یې ویلي دي. دده د شعرو کتاب د ټولو پښتنو خوښ دئ او په لوړه سترګه ورته ګوري. د ده د شعر نمونه په لاندي ډول ده:

چي مـدام د بـل و عیبو تـه نـظر کړي
خـدای د خپـله عیبـه ولي بې خبر کړي
کـه یـوه جـودانه عیب وینې په بل کښي
هغه یو جودانه عیب به یې لـوی غـر کړي
کـه دي خپـله ګنـاه لـویه لکه غر وي
پـه حیـله حیـله بـه غـر د مچ وزر کړي
که څوک تله د انصاف په لاس کښي در کړي
خـپل ټـټو او د بـل اس بـه برابر کړي
تـو لعنت دي پـه دا هسي مـنصفي شه
چـي د حـقه و بـاطل و تـه ګـذر کړي
تـا تـه رب د مـلایـکو مـقام در کـړ
تـا دا خپـل صـورت پخپله ګاو و خر کړ
که دي یـو وبښتـه د ځان د پاسه کوږ شي
ځـان هغه سـاعت لـه خدایـه مرور کړي
د ځوانـۍ عمـر دي تېر کړ په غفلت کښي

پــه پيري کي بــه څـــه زېرمه د محشر کړې

پــه پـــيري کښي د ځـــوانۍ چاري نه ښايي

تــه پــه ورځ د عــاشـــورې به څه اختر کړې

لــکه ببــخ د زړې ونـــي چـــينجي وخــوري

پــه دا تــېر عمر بـــه څه ښاخ و ثمر کـــړې

دغـــه بـــاغ به دي خلاص نه شي له خزانـــه

کــه چاپــېر ور ځني ســـد د سکندر کـــړې

و بـــد خواوو تـــه هيڅ څوک نصيحت نـــه کا

رحمان ستا په غم شريک دئ که بـــاور کړې